AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۵/۰۷

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (څلور څلویښتمه برخه)

## فاطمه کیفي مینه یار

د جنرال سید محمد اکبر مینه یار لور په ۱۹۳۷ز کال کې په کابل کې زېږېدلې ده. د ملالۍ د نجونو له لیسې څخه له فارغېدلو وروسته په ۱۹۵۹ز کال کې د کابل پوهنتون د ساینس له پوهنځي څخه فارغه سوه. په ۱۹۶۴ز کال کې ئې خپله ماستري د پنسلوانیا له دولتي پوهنتون څخه د کورني اقتصاد په برخې کې تر لاسه کړه. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۷۴ز کال پورې د ښوونې او روزنې او د ادبیاتو په دیپارتمنتونو کې ښوونکې. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۷۴ز کال پورې د ښوونې او روزنې په دیپارتمنت کې د کورني اقتصاد مشره. له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د معارف په وزارت کې د تدریسي کتابونو او د تحقیق د کمېټې غړې. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د اساسي قانون د تسوید د کمیټې غړې. له ۱۹۷۵ تر ۱۹۸۲ز کال پورې د کابل پوهنتون د باندنیو محصلینو د چارو د دفتر منتظمه. د ګڼ شمېر آثارو لیکواله. اوس له خپل خاوند پوهاند کیفي سره په کالیفورنیا کې ژوند کوي.

## محمد امیر کیفي

د سلطان محمد زوی په ۱۹۳۷ز کال کې په بغلان کې زېږېدلی دئ. په بغلان کې له زده کړو وروسته کابل ته راغی او په ۱۹۶۰ز کال کې د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې له پوهنځي څخه ئې خپل لیسانس تر لاسه کړ او په ۱۹۶۲ز کال کې ئې خپله ماستري د کولمبیا له پوهنتون څخه تر لاسه کړله. په ۱۹۷۴زکال کې ئې په لندن کې د „فراغت روزنه" [1] ولیدله. د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې په پوهنځي کې پوهیالی. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۷۳ز کال او له ۱۹۷۶ تر ۱۹۸۰ز کال پورې پورې د انګلیسي ددیپارتمنت رئیس. په ۱۹۷۷ز کال کې د ټافل TEFL د دوهمې درجې لپاره د افغان – برتانیې د تعلیمي نصاب د پرمختګ د ډلې غړی. له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د U.S. Peace Corps او USIS لپاره د پاړسي ژبې ښوونکی. په ۱۹۸۲ز کال کې پاکستان ته وتښتېد. له ۱۹۸۲ تر ۱۹۸۳ز کال پورې په پاکستان کې د کډوالو لپاره د امریکا د پروګرام [2] ژباړونکی. د ۱۹۸۴ز کال راهیسې د امریکا په کالیفورنیا کې د USCC د بیا استوګن کېدلو د پروګرام سلاکار. مؤلف. له فاطمې مینه یار سره ئې وادهٔ کړی دئ.

1 -Graduate Training
2 -U.S. Refugee program in Pakistan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**مرتضی کیوان**

د غوايي له پاڅون وروسته، د دريمې ګوندي حوزې منشي.

## ډاکټر عبدالغفار کاکړ

د تاج محمد زوی په ۱۹۱۴ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. د استانبول په پوهنتون کې ئې تحصيلات کړي دي او دلته ئې په رياضياتو او فزيک کې خپل د فراغت سند تر لاسه او په لندن کې ئې خپله دکتورا په رياضياتو کې تر لاسه کړله. د ۱۹۸۰ز کال لسيزې تر اوږدو پورې د کابل پوهنتون استاد. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د کابل پوهنتون د ساينس د پوهنځي رئيس. تر ۱۹۷۳ز کال پورې د افغانستان د اټومي انرژۍ د کميسيون رئيس. په ۱۹۸۵ز کال کې په نوي ډيلي کې وفات سو.

## ډاکټر فيض الله کاکړ

د عبدالله زوی په ۱۹۵۰ز کال کې د ميمنې په بلچراغ کې زېږېدلی دئ. په ميمنې او د کابل د حبيبيې په ليسې کې ئې زده کړې کړي دي. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د آيووا په سپنسر کې د فيلو شيپ زده کوونکی[3]. د حبيبيې له ليسې څخه له فراغت وروسته د کابل پوهنتون د طب په پوهنځي کې شامل سو. په ۱۹۷۷ز کال کې ئې په ،انديداناپلس،[4] کې د ،انديانا له پوهنتون، [5] څخه خپله ماستري په ټاکيسکالوژي [6] يا زهر پېژندنې کې واخيستله؛ او په ۱۹۸۲ز کال کې ئې خپله دکتورا په ،اپيډيمولوژي، [7] کې د ،سياټل د واشنګټن له پوهنتون، [8] څخه واخيسته. د ،فرد هچنسن د سرطان د تحقيقاتو د مرکز، ستاف ساينتست، [9]. د ،ايرلحم د نړۍ وال کلب د مسلمانو محصلينو د ټولنې، [10]، د سياټل اسلامي مرکز، د سياټل اسلامي ښوونځي، او د افغان مرستې د سازمان رئيس. د افغانستان د مالي مرستې رئيس. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده.

## محمد انور کاکړ

په ۱۹۳۰ز کال کې د کابل ولايت په ،سُهاک، [11] کې زېږېدلی دئ. د شيوه کيو له لومړني ښوونځي څخه فارغ او په پای کې د کابل له دارالمعلمينو څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۵ز کال کې د کابل پوهنتون د ادبياتو له پوهنځي څخه په تأريخ او جغرافيې کې د ليسانس په درجې فارغ سو. له هغه وروسته د اداري محکمې غړی او د يوهٔ وخت لپاره په صدارت عظمی کې د آرشيف مدير وو. په ۱۹۶۲ز کال کې د يوهٔ کال لپاره د امريکا متحده ايالاتو ته لاړ او له بېرته راستنيدلو وروسته د ملکي خدماتو په رياست کې د ،تحقيق او مطالعاتو، د مدير په توګه وګومارل سو. په ۱۹۷۱ز کال کې د عدليې د وزارت اداري رياست ته تبديل سو. د لوی څارنوال سکرتر وو او د يوهٔ وخت لپاره د تقنين د رياست

---

[3] - Fellowship Student in Spencer, Iowa
[4] -Indianapolis
[5] -Indiana University
[6] -Toxicology
[7] - Epidemiology
[8] - University of Washington, Seattle
[9] -Staff Scientist, Fred Hutchinson Cancer Research Center
[10] -President, International Club of Earlham Muslim Student Association
[11] -Sohak Kabul province


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

سلاکار وو او وروسته د کابل د دارالتأدیب د ښوونځي رئیس سو. نوموړي په یو شمېر سیمینارونو کې ګډون کړی چې په ایټالیا کې د «ملګرو ملتونو د ټولنیزې دفاع د انسټیټیوت» [12] له پلوه تمویل سوی وو او په جاپان کې د UNAFEI په سیمینار کې ګډون وکړ. په ۱۹۷۸ز کال کې ئې سعودي عربستان ته د حج او اوقافو د اداري کمیټې د رئیس په توګه حج ته سفر وکړ. د ۱۹۷۹ز کال د فبرورۍ په میاشت کې په بنګله دیش کې د افغان سفارت د سفیر په توګه وګومارل سو. ویل کېږي چې د ۱۹۸۲ز کال د اپریل په میاشت کې ئې استعفی ورکړه او اوس په پاکستان کې ژوند کوي.

## ډاکټر محمد حسن کاکړ

د ۱۹۳۲ز کال د اکتوبر د میاشتې په ۲۰ نېټې په لغمان کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۴۴ تر ۱۹۴۶ز کال پورې ئې د لغمان په لیسې کې زده کړې وکړې. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۴۷ز کال پورې د کندهار د احمد شاه بابا په لیسې کې؛ او په ۱۹۵۰ز کال کې د غازي له لیسې څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۷ز کال کې ئې د کابل له پوهنتون څخه خپل لیسانس واخیست. په ۱۹۶۱ز کال کې د لندن په SOAS کې شامل سو چې په ۱۹۶۸ز کال کې ئې خپله ماستري په فلسفې او په ۱۹۷۴ز کال کې ئې خپله دکتورا په تأریخ کې واخیسته. تقریباً ۶۰ مقالې ئې په افغان ورځپاڼو کې خپرې سوې دي او یو شمېر کتابونه ئې پښتو او دري ته ژباړلي دي. آثار ئې : «افغانستان : په نړۍ والو سیاسي پرمختګونو کې یوه څېړنه : له ۱۸۸۰ تر ۱۸۹۶ز کال پورې» [13]؛ «په افغانستان کې ټولنه او سیاست» [14]. د پښتو اکاډیمۍ غړی. د کابل پوهنتون پوهندوی. د کابل پوهنتون د تأریخ د دیپارټمنټ مشر. د «شب نامو» په لیکلو تورن سو او په ۱۹۸۳ز کال کې د اتو کالو لپاره زنداني سو.

## جنرال محمد هاشم کاکړ

د محمد سعید زوی په ۱۸۸۲ز کال کې د هندوستان په دهرا دون کې زېږېدلی دئ. لومړنی ښوونځی ئې په دهرا دون کې لوستی او بیا د آخوند ملا پیرو ښوونځي ته تللی دئ. په ۱۹۰۲ز کال کې د حبیبیې له ښوونځي او په ۱۹۰۸ز کال کې له حربي ښوونځي څخه فارغ سوی دئ. د حربي ښوونځي ښوونکی؛ «د ټیټ پوړو پوځي افسرانو د روزنې لپاره» د حربي ښوونځي بولندوی. په ۱۹۲۰ز کال کې د پغمان د ښوونځي مدیر. د جګړن رتبې ته ئې ارتقاء وکړه. په ۱۹۲۱ز کال کې په دریم شاهي واحد کې وو. په ۱۹۲۲ز کال کې د هرات په ګارنیزیون کې د پوځي روزنې مسؤول. په ۱۹۲۳ز کال کې ئې په هرات کې حربي ښوونځي پرانیست. په ۱۹۲۴ز کال کې ئې د ډګرمن رتبې ته ترفیع وکړه. په ۱۹۲۵ز کال کې ګوډ ملا د بغاوت پر وړاندې د توپچي ځواک بولندوی. د ډګروال رتبې ته ئې ارتقاء وکړه، د کابل دوهم ګارنیزیون کې وو. په ۱۹۲۷ز کال کې د ولسي جرګې/ پارلمان مرستیال. په ۱۹۲۸ز کال کې په کابل کې د پولیسو د ښوونځي بولندوی او منتظم. د حبیب الله کلکاني پر وړاندې ئې جګړه وکړه او ویل سوي چې د کلکاني ۴۰۰ تنه جنګیالي ئې ونیول خو اعلیحضرت امان الله خان نیول سوي سرتیري د پیسو او تحایفو له اهداء کولو وروسته خوشې کړل. په ۱۹۲۹ز کال کې حبیب الله ککاني زنداني کړ. له شاه محمود او شاه ولي سره ئې د حبیب الله کلکاني پر ضد همکاري وکړه. په ۱۹۳۰ز کال کې د تورن جنرال رتبې ته ئې ارتقاء وکړه او د جنګ د وزارت مرستیال وزیر وټاکل سو. په

---

12 - UN Institute of Social defense
13 - Afghanistan, a study in International Political Developments, 1880 - 1896
14 - Government and Society in Afghanistan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۱۹۳۳ز کال کې د حربي پوهنتون بولندوی او منتظم. په ۱۹۳۵ز کال کې د جنګ د وزارت د تفتیش د ریاست رئیس.
په ۱۹۳۷ز کال کې متقاعد سو. په ۱۹۸۲ز کال کې پاکستان ته وتښتېد او په ۱۹۸۳ز کال کې امریکا ته لاړ.

## نور بیا

### عبدالمجید کلکاني

په ۱۹۳۹ز کال کې د کوهستان په کلکانو کې زېږېدلی دئ. پلار او نیکهٔ...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ